ليکوال: اې. مندوخېل
ژباړه: بارکوال مياخېل

# پښتونخوا ولې نه؟

اوسنی خیبرپښتونخوا ایالت د پاکستان له څلورو ایالتونو څخه یو داسې ایالت دی چې انګرېزانو په ۱۹۰۱م کال د شمال لوېدیځ سرحدي ایالت (N.W.F.P) په نامه نومولی وو، عامو خلکو به ورته (سرحد) ویل، چې یواځې د ایالت لپاره په ذکر شوي نامه کې د (Frontier) توري ژباړه ده، خو دا توری د دې سیمې لپاره کله هم د سرحد یا پولې (Border) په مانا نه دی کارول شوی، ځکه نو دا نوم نه قانوني حیثیت درلود او نه آیینې. د پاکستان تر جوړېدو لږ موده مخکې او د ۱۹۵۰ او ۶۰ په لسیزه کې به پښتنو مشرانو له خیبرپښتونخوا ایالته پرته ځینې نورې پښتني سیمې د (پښتونستان) په نوم یادولې او له هغه وروسته عوامي نېشنل ګوند او ځینو نورو سیاسي ګوندونو د هغه وخت د شمال لوېدیځ سرحدي ایالت (اوسني خیبرپښتونخوا) په ایالتي اسمبلۍ کې د پښتونخوا نوم په حق کې قراردادونه منظور کړل چې له امله یې په سیاسي ډلو کې شور او زوږ را پورته شو.

د دې اوسني حکومت (۲۰۰۸م) له جوړېدو سره سم عوامي نېشنل ګوند او پلویانو یې یو ځل بیا شمال لوېدیځ سرحدي ایالت ته د پښتونخوا نوم ټاکلو لپاره هڅې پیل کړې، چې د دوی د ځینو نورو اتحادي ګوندونو په شمول پاکستان پیپلز ګوند هم نه یواځې د دوی ملاتړ وکړ، بلکې د پیپلز ګوند د پارلمان غړیو به د عوامي نېشنل ګوند د غړیو غوندې این.ډبلیو.ایف.پي ته پښتونخوا نوم کاراوه، خو د پاکستان په اساسي قانون (آيين) کې له بدلون راوستلو پرته یواځې په خبرو کې پښتونخوا یادول نه یواځې د سیاسي ځانښوونې عمل وو، بلکې بې ګټې کار هم وو.

نېشنلستانو او ملتپالو پښتنو مشرانو شمال لوېدیځ سرحدي ایالت ته د پختونخوا (پښتونخوا) نوم ورکول غوښت، خو ځینو غیر پښتنو "پوهانو او مشرانو" د دې نوم په کلکه مخالفت وکړ، هغوی د پښتونخوا پر ځای د خیبر، اباسین، اسلامیان، ګندهارا او ځینو نورو نومونو وړاندیزونه ورکړل، خو ملتپالو پښتنو مشرانو دا نومونه ورسره ونه منل او دې ته اړ شول چې د پښتونخوا تر څنګ یې د (افغانیه) پر نامه هم ورسره موافقه وکړه، خو هغوی دغه نوم هم ورسره ونه مانه او اخیر د عوامي نېشنل ګوند تر ډېرو هلو ځلو او د مخالفینو تر ډېرو اختلافونو وروسته د انګرېزانو له خوا ټاکل شوي شمال لوېدیځ سرحدي ایالت ته د (خیبر پښتونخوا) نوم وټاکل شو، چې که څه هم ډېر د خوښې ځای دی ځکه چې وایي "د لېوه له خولې یو هډوکی هم غنیمت دی" خو دا نوم چې یوه مرکبه کلمه ده او د پښتنو د یوې سیمې خیبر نوم (چې هغه هم له انتظامي پلوه په خیبرپښتونخوا ایالت کې نه راځي) د ټول ایالت یا له تاریخي پلوه د ټولې پښتني خاورې له تاریخي نوم سره تړل شوی دی، دا نه له جغرافیایي پلوه او نه هم له ژبني اړخه سم او مناسب نوم دی.


www.esalat.org

پښتونخوا يوه تاريخي كلمه ده، د تاريخ ځينې څېړونكي د يوناني تاريخ كښونكي هېروډوټس "پكتيكا" د اوسنی پښتونخوا لرغوني بڼه بولي، ځكه هېروډوټس چي د پكتيكا يا پكتوېک په نامه کوم وطن ياد كړی دی، دا د پښتونخوا مترادف دی او په دوه نيم زره كاله پخوانيو يوناني اثارو کي يې يادونه شوې ده، لرغوني پښتونخوا هغه ملک يا وطن دی چي په اوسنيو وختونو کي افغانستان ياني د امو له سينده تر جهلمه پوري دا تولـه سيمه ده، خو زه به دېري لرغوني زماني ته نه ځم او تر اسلام را وروسته دوري په تاريخ کي به د پښتونخوا كلمي ذكر او يادوني ته كتنه وكړم.

په تاريخ کي د پښتو د خاوري او هيواد لپاره د افغانستان، روه، جبال الافغانيه، خراسان او پښتونخوا نومونه په بېلابېلو دورو کي كارول شوي دي، خو د پښتونخوا كلمه پكي پښتنو اكثره د خپل وطن لپاره كارولي ده، دا كلمه په اتلسمه مېلادي پېړی کي د افغانستان په مانا هم كارول شوې ده چي په پخوانيو زړو متونو کي د "پښتنخا او پښتونخوا" په بڼه هم ليكل شوې ده.

ځيني خلك دا كلمه د "پښتونخواه يا پښتون خواه" په بڼه هم ليكي، چي دا دواړه شكلونه يې ناسم دي، دا كلمه په "پختونخوا" سره ليكل هم سم نه دي، دا بايد چي يا خو د پښتو په بڼه "پښتونخوا" وليكل شي يا بايد د فارسي او اردو په پيروی "پشتونخوا" وليكل شي، ځكه په دغو ژبو کي د پښتو د ښ توري له پخوا راهيسي همداسي ليكل كېږي، لكه پښين په پشين او پېښور په پشاور ليكل كېږي، پښتون كله هم پختون نه ليكل كېږي او بيا پښتونخوا خو مركب كلمه ده، چي له پښتون او خوا څخه جوړه ده او مانا يې ده د پښتنو خاوره يا هغه سيمه چي پښتانه پكي اوسېږي.

د پښتونخوا وطن او نامه مخالفينو د دی په خلاف يوه منظمه او پراخه پروپيگنډه وكړه، چي زه يې دلته تفصيل ېځايه بولم، زه به دلته يواځي د دوو كتابونو يادونه وكړم چي په هغو کي تقريباً تولو مخالفينو په گډه سره خپله "پوهه او څېړنه" د ورځپاڼو د كالمونو او نورو مقالو په بڼه وړاندې كړې ده.

لومړی كتاب د "پشتونخوا كيون؟ (پښتونخوا ولي؟)" په نامه ډاكټر ايم- اې- صوفي او نورو "پوهانو او څېړونكيو" په گډه ليكلی دی او بل كتاب ضياء شاهد او د هغه ډلي د "ولی جواب دين (ولي خان دې ځواب راكړي)" په گډه ليكلی دی.

ډاكټر ايم- اې- صوفي د غاښونو متخصص ډاكټر (dental surgeon) دی، د پښتنو د تاريخ، ژبې، شخصيتونو، سياست، ستونځو او سوچ په اړه د دۀ مالومات همدومره دي، لكه د غاښونو د ناروغيو او درملني په اړه چي يې عام سړی لري. دغه نوموړی ډاكټر چي په يادو شويو موضوعاتو پوهيږي، دومره وخت به ځنې اخلي، څومره وخت چي د غاښونو د متخصص ډاكټر په جوړېدو لگېږي، همدارنگه د ضياء شاهد او د ده د ډلي د كتاب "ولي خان دې ځواب راكړي" هم همدا حال دی، په دې كتاب کي چاپ شوې "څېړنيزې مقالي" چنداني څه علمي ارزښت نه لري.

په دغو دواړو كتابونو کي چي څه ډول ژبه كارول شوې ده، پر هغه باندې زه سياسي تبصره نه شم كولای ځكه چي پښتنو پوهانو هغه هسې سياسي برغزو (Mud slinging) گڼلي او په



www.esalat.org

علمي بنیادونو یې بې ارزښته ګڼلي ده. د دغو دوړو کتابونو په اړه به دومره ووایم چې په دغو کتابونو کې له دې موضوع سره تړلي اکثره مالومات یواځي او یواځي چټیات او ملنډې دي.

د پښتونخوا کلمې مخالفین اکثره د دغو ځلورو خبرو یادونه کوي:

۱. پښتونخوا نوم پخوا نه دی کارول شوی، دا د عوامي نېشنل ګوند سیاسي اختراع او شعار دی.

۲. شمال لوېدیځ سرحدي ایالت (N.W.F.P) سم نوم دی، د نامه د بدلېدو لپاره آیینې بدلون ته اړتیا وي، چې دا کار ممکن نه دی.

۳. د سیند او پنجاب ایالتونو نومونه د قومونو په نومونو نه، بلکې د دریابونو په نومونو ښول شوي دي.

۴. پښتونخوا یوه دسیسه ده، له دې سره به د پاکستان بقا او یووالي ته خطر پېښ شي.

۵. د پښتونخوا نوم ښول به په دې ایالت کې له غیرپښتنو سره زیاتی او ظلم وي.

دا ډول پوښتنې اکثره وخت هغه خلک کوي چې هغوی یا خو خبر نه وي او یا د منافقت او سپې هیلي (طمعې)له امله قصداً همداسې کوي.

۱. د لومړۍ نیوکې یا پوښتنې په ځواب ورکولو سره به دومره ووایم چې د پښتو ژبې او د پښتنو له تاریخه بې خبري او لاعلمي بده خبره نه ده، خو په ناخبرتیا او لاعلمۍ سره هم دا خبره کول چې پلانی توری د پښتو ژبې او ادب په تاریخ کې ښېخي نه شته، دا سمه خبره نه ده، د "پښتونخوا" کلمه په پښتو ادب کې دومره زیاته کارول شوې ده چې که چا لږ هم د پښتو ادب مطالعه کړې وي، هغه به په دې خبر وي چې دا کلمه کله او چا کارولې ده، زه به د پښتونخوا کلمې په اړه دلته یواځي لس تاریخي شواهد له مثالونو سره وړاندې کړم:

(۱) پښتونخوا کلمه په ۵۸۰ هجري کې د شهاب الدین غوري د دربار یوه شاعر ښکارندوی په خپل یوه بیت کې کارولې ده، هغه وایي:

پښتونخوا ښکلي زلمي چې ځغلي هند ته
نو آغلیه پېغلې کاندي اتنونه[1]

(۲) تر ښکارندوی لږ موده را وروسته د کندهار د ارغسان د غرو اوسېدونکي سلیمان ماکو په ۶۱۲هجري کې په خپل کتاب "تذکرة الاولیاء" کې د پښتونخوا کلمې یادونه کړې ده:

"په سنه دوولس شپږ سوه هجري تللئ وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرزېدم او مراقد د اولیا او واصلینو می پلټل"[2].

(۳) بابا هوتک (۷۴۰ هجري) د پښتو یو ملي او حماسي شاعر وو، هغه په خپلو شعرونو کې د پښتونخوا کلمه درې ځله کارولې ده، یو ځای وایي:

غښتلو ننګ کړئ دا موار دی
مغل راغلی په تلوار دی

---

(1) پټه خزانه، ۵۶ مخ، ۱۱۴۱هجري.
(2) تذکرة الاولیاء، ۲۳مخ.



www.esalat.org

پــــه پښـــــتونخوا کښـــــي يـــــي ناتـــــار دی
پــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدي مغــــل راغــــی[3]

(۴) له هغه را وروسته اخون درويزه په خپل کتاب "مخزن الاسلام" (۱۶۳۸م) کي ليکي:

"حضـرت سـيد علـي ترمـذی وو پـه بنيـر کښـي پښـتونخوا پـه مثـال شـپه وه دی ډيـوه وه پـه انـدهير کښي، دی نيکخواه د پښتونخوا وو ساتندويه په دنيا وو"[4].

(۵) اخـون درويـزه د خپـل کتـاب "مخـزن الاسـلام" پـه ۱۳۵مـخ کـي يـو بـل ځـای بيـا هـم د پښتونخوا کلمي يادونه په دي ډول کوي:

"دغـه لاپـه يـي پـه خولـه کـره چـي بادشـاه د پښـتنو يـم، پښـتنو تـولی پـري وکـړ ولـي دی هـم پښـتنخا لره بلا شه...پښتنخا په دواړه لوريه خوارېدنه ولي لا به هم خوارېږي".

پـه پورتنيـو خبـرو کـي اخـون درويـزه د جـلال الـدين اکبـر يادونـه کـوي چـي وايـي هغـه ويـل زه د پښـتنو باچـا يـم، پښـتانه پـر هغـه شـاوخوا را ټـول شـول خـو هغـه د پښـتونخوا لپـاره بـلا ثابـت شـو، د پښتونخوا دواړه اړخونه په خوارېدو شول او نور به هم خوارېږي.

(۶) د پښـتو نوميـالي شـاعر د تـوري او قلـم څښـتن خوشـال خـان ختـك د پښـتونخوا کلمـه بيـا- بيا کارولي ده، هغه په خپل يوه بيت کي وايي:

نــــوره واړه پښــــتونخوا پـــــه ځـــــای ميشـــــته ده
خـو يـو زه دي زمـاني پـه کښـي منصـور کـړم[5]

(۷) خوشال بابا په يوه بل بيت کي وايي:

هـر چـي ښـه د پښـتونخوا دی حـال يـي دا دی
هغـو بـدو تـه يـي څـوك وايـي سـرې دي[6]

(۸) د خوشـال خـان ختـك لمسـي افضـل خـان ختـك پـه خپـل کتـاب "تـاريخ مرصـع" کـي پـر ۵۹۲مخ باندي د پښتونخوا ذکر په دي ډول کړی دی:

"او بل شيخ شاهي ښادي خيل دی چي بي له قيده قلندر مشرف عمر تېروي...او مريدان د شيخ په سړين او په کرلانړی او په بنګښ او په نور پښتونخوا کښي بې حسابه او بې شمار دي".

(۹) احمدشـاه بابـا چـي د باچـاهي تـر څنـگ د پښـتو ژبـي شـاعر هـم وو، د ده د يـوې غزلـي هغـه بيـت- چـي د پښـتونخوا کلمـه پکـي راغلـي ده- د هـر پـر وطـن مـين پښـتانه زده دی، بيـت داسـي دی چي:

د ډيلـــي تخـــت هېرومـــه چـــي را يـــاد کـــړم
زمـــا د ښـــکلي پښـــتونخوا د غـــرو ســـرونه[7]

(۱۰) پيرمحمـــدکاکړ چـــي د احمدشـــاه بابـــا معاصـــر شـــاعر دی، پـــه ۱۱۹۶هجـــري کـــي "پښتونخوا" کلمه د رحمان بابا په ستاينه کي په يوه بيت کي داسي کارولي ده:

(3) پـټـه خـزانـه، ۱۱- ۱۱ مـخـونـه، ۱۱۴۱هجري.
(4) مـخـزن الاسلام، ۱۳۲ مـخ.
(5) د خـوشـحـال خـان خـتـك كـلـيـات، ۵۶۲ مـخ، د دوسـت مـحـمـدكـامـل مـرتـب شـوی.
(6) ارمـغـان خـوشـال، ۷۱۷مـخ.
(7) د احـمـدشـاه بـابـا ديـوان، كـابـل چـاپ.



www.esalat.org

لکــه شـــعر دی د دهٔ پــه پښــتونخوا کښـــي
بـل بــه کـم وي پــه دا وخـت د افغـان شـعر[8]

لــه پښــتنو پرتــه د انګرېزانــو او نــورو مستشــرقينو پــه ليکنــو کـي هـم د پښـتونخوا کلمــه ډېـر ځلــه کارول شوې ده:

(۱) زمـا د مالومـاتو لــه مخــي دا کلمــه تـر ټولـو مخکـي سـيدغلام محمـد او يـوهٔ بـل سـروې کـــوونکي هـــم (۱۷۸۶م- ۱۷۹۶م) کـــارولې ده چـــي د لارډ هاســـټنګ پـــه زمانـــه کـــي افغانســـتان تـــه را لېږل شوي وو، هغه وايي:

"When you lose it altogether and reach the crest of the great western range of Mihtar Suliman or Kohisiyah the outer most slopes of which the extreme boundary in this direction between the territory of Ghaznin and Afghanistan or Pushtun khwa"[9].

ژبـاړه: "کلـه چـي تـه هغـه بېخـي پرېږدې او د مهتـر سـليمان يـا تـور غرهٔ سـتري لوېـديځې لـړۍ تـه ورسېږې چـي بهرنـۍ څنـډې يـې د غزنـي او افغانسـتان يـا د پښـتونخوا د سـيمو تـر منـځ پـه دې اړخ کـي وروستۍ پوله جوړوي".

(۲) ليـدن هـم پـه ۱۸۱۲م کـال کـي د خپـل کتـاب (Asiatik Research) پـه يوولسـم ټـوك کي پر ۳۶۳ مخ باندې د پښتونخوا يادونه په دې ډول کړې ده:

ژبـاړه: کلـه چـي بايزيـد لـه ننګرهـاره را روان شـو نـو د پښـتونخوا يـا د دې کلمـي پـه څـانګړې مانـا د افغانستان پر لور لاړ.

(۳) تــر هغــه وروســته برنــارډ دورن (Bernhard Dorn) پــه ۱۸۴۷م کــال پــه خپـل کتــاب (A chrestomathy of the Pashto or Afghan Language) "د پښتو ژبې منتخبات" کي پر ۴۲۸ مخ باندې د پښتونخوا مانا داسي ليکلې ده:

- افغانستان (Puktankha) "پښتنخا و پښتن خا".

(۴) مېجـر راورټـي پــه ۱۸۶۰م کـال د خپـل قـاموس پـر ۱۷۹ مـخ د پښـتونخوا يادونـه کـړې ده او دا کلمه يې داسي مانا کړې ده:

The Afghan country, Afghanistan "پښتنخوا، پښتنخا"

پښتن Afghan and خا or خوا Side

(۵) مېجـر راورټـي پـه ۱۸۸۸م کـال پـه خپـل کتـاب Notes on Afghanistan and Baluchistan کــي پښــتونخوا کلمــه هــر ځــای د پښــتني ســيمو يــا افغانســتان لپــاره کــارولې ده، چـــي دلته به يواځې د څو مخونو حوالې ورکړو. ۴۶۶- ۴۶۸- ۴۷۰ مخونه.

(۶) ډاکټـر هنـري والټـر بيلـو هـم پـه ۱۸۶۷م کـال د خپـل پښـتو ګرامـر د سـريزې پـر ۱۲ مـخ د پښتونخوا يادونه او ستاينه په دې ډول کړې ده:

---

(8) د پـيـرمـحـمـد کـاکـړ ديـوان، ۱۱ مـخ
(9) Notes on Afghanistan and Baluchistan, page 544 Henry George Raverty, 1888.



www.esalat.org

"More specially as the nation though it has for many centuries occupied its present ground at the point of junction between the Indian and Persian empire- in the country known as Afghanistan to the stranger and as Pukhtun khwa to the Afghans or Pukhtuns".

ژباړه:- په ځانګړي توګه دا قوم چي له څو پېړيو راهيسي تر اوسه پوري يې د هند او ايران تر منځ اوسنی مځکه تر خپل واك لاندي راوستله، چي نور خلك ورته افغانستان خو افغانان يا پښتانه يې د پښتونخوا په نامه پېژني.

(۷) فرانسوي عالم جيمزډار مستټر James Darmesteter (۱۸۴۹م- ۱۸۹۴م) د پښتو پر شفاهي او ولسي شاعري باندي يو كتاب ليكلی دی چي "د پښتونخوا هار و بهار" نوميږي.

په اوسنيو پښتو پوهانو او شاعرانو كي تقريباً ټولو د خپل وطن لپاره د پښتونخوا نوم په خپلو شعرونو او ليكنو كي كارولی دی، كه زه د ټولو ماخذونه او نموني دلته راوړم نو د هغه لپاره يوه بېل كتاب ليكلو ته اړتيا پيښيږي. د پښتو ژبي نارينه شاعران او ليكوال خو څه چي د پښتو ښځينه شاعرانو هم په خپلو شعرونو كي هر ځل د خپلي خاوري لپاره د پښتونخوا كلمه كارولي ده.

نوميالی سندرغاړي او شاعري شاپيری نغمي د خپلو شعرونو په مجموعه "ماته هنداره" كي پر ۶۴ مخ باندي پښتونخوا داسي ياده كړي ده:

ښه وايي نغمه چي پښتونخوا غواړم

څو به تګ راتګ وي د خيبر په سر

دا كلمه پښتنو عالمانو په نويو چاپ شويو قاموسونو كي هم راوړي ده، بهادرشاه ظفر كاكاخېل د خپل پښتو- اردو قاموس "ظفراللغات" پر ۳۲۹ مخ باندي پښتونخوا داسي را پېژني:

"پښتنخا، پختون خواه" ژباړه:، "د پښتون قوم سيمه، هغه سيمه چي پښتانه پكي اوسيږي".

يوه بل پښتون عالم قلندر مومند هم د خپل پښتو قاموس "درياب" پر ۶۶۲ مخ باندي پښتونخوا كټ مټ د بهادرشاه ظفر كاكاخېل غوندي داسي را پېژني:

"پښتونخا، پښتونخوا"، د پښتنو سيمه، د پښتنو د اوسېدو ځای".

له دغو ټولو ماخذونو دا څرګنده شوه چي د پښتونخوا كلمه د كومي ځانګړي ډلي يا ګوند له خوا نه ده جوړه شوي، دا كلمه له پېړيو راهيسي د پښتني سيمو لپاره كارول كېږي، حتی چي د پښتون ملت قاتلين او د پښتني وطن غاصبو انګرېزانو هم همدا نوم كارولی دی.

۲. د پښتونخوا د مخالفينو درېيم دليل دا دی چي (N.W.F.P) سم نوم دی، د دي د بدلېدو لپاره آييني بدلون ته اړتيا ده چي وايي دا ممكنه نه ده. پښتونخوا ته د شمال لوېديځ سرحدي ايالت (N.W.F.P) نوم د ۱۹۰۱م كال د نومبر پر نهمه نېټه د يوه انګرېز باچا په كاليزه كي وركړل شو (دي پټهان، اولف كيرو، ۴۱۴مخ)، انګرېزانو دا نوم د خپلي انتظامي او استعماري پاليسی د اسانتيا لپاره كښېښوو، ځكه چي شمال لوېديځ سرحدي ايالت دوی ته ډېر ارزښت درلود. شمال لوېديځ سرحد د يوه لوري نوم وو، چي رېښتيا هم د بريتانوي هند په شمال لوېديځ كي سرحد وو، خو كله چي په ۱۹۴۷م كال پاكستان جوړ شو نو (N.W.F.P) يواځي تر څه حده پوري د



www.esalat.org

پنجاب په شمال لوېديځ ارخ کې وو، د نورو ايالتونو په شمال لوېديځ کې نه وو، مثلاً د بلوچستان شمال لوېديځ ته افغانستان پروت وو او دی، شمال لوېديځ سرحدي ايالت (N.W.F.P) يې تقريباً شمال ختيځ لور ته پروت دی، نه شمال لوېديځ ته، نو د هغه وخت له پايتخت کراچۍ څخه که د (پښتونخوا کيون؟: پښتونخوا ولې؟) د کتاب ليکوال ډاکټر ايم- اي- صوفي شمال لوېديځ سرحدي ايالت (N.W.F.P) ته تلای، نو مخامخ به د سمندر منځ ته رسېدلای وای او خلک به د غاښونو له يوه متخصص ډاکټره بې برخې شوي وای.

بله خبره دا چې دا نوم په اساسي قانون کې راغلی دی او بدلېدل يې امکان نه لري، دا بېخي غلطه خبره ده. د پاکستان د اوسني د ۱۹۷۳م کال د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې د دې ايالت نوم شمال لوېديځ سرحدي ايالت (N.W.F.P) ښودل شوی دی او د دې د بدلېدو لپاره د آيين د ۲۳۹مې مادې له مخې د قومي اسمبلی له ۳۴۲ غړيو څخه ۲۲۸ تنه او د سنا (Senate) له ۱۰۰ سناتورانو څخه ۶۶ تنه، ياني د دواړو پارلمانونو د ټولو غړيو دوه په درې کې اکثريت که د دې بدلون په حق کې رايه ورکړي، نو دا نوم بدلېدلای شي.

د پاکستان د ۱۹۷۳م کال په اساسي قانون کې تر اوسه پورې اوولس بدلونونه راوستل شوي دي، اساسي قانون (آيين) قرآن نه وي، د انسانانو له خوا جوړ شوي قوانين وي، چې په ټوله نړۍ کې له حالاتو او انساني اړتياوو سره سم بدلونونه پکې راوستل کېږي.

آيا تر دې مخکې هم په آيين کې بدلون راوستل دومره ګران او ستونځمن کار بلل شوی دی؟ ځينې دلې د نامه د بدلېدو لپاره د ټولپوښتنې (Referendum) وړانديز ورکوي، خو له هغوی دا هېر دي چې ښکېلاکګرو انګرېزانو د دې سيمې د بې نومه کولو پر وخت څه دول ټولپوښتنه تر سره کړې وه، که مقصد د ولس رايه او احساسات مالومول وي، نو د هغوی اظهار خو په ټوله نړۍ کې د ولس د ټاکل شويو استازيو له خوا کېږي. چې دا ثابته ده چې د دې سيمې نوم پخوا پښتونخوا وو او دا هم ثابته ده چې استعمارګرو انګرېزانو د شمال لوېديځ سرحدي ايالت (N.W.F.P) په ۱۹۰۱م کال کې ورکړی وو او دا هم مالومه ده چې په ۱۹۴۷م کال د پاکستان تر جوړېدو را وروسته دا نوم د غلط العام په توګه پاته شو، نو بيا پښتنو ته د خپل نامه د ورکولو پر سره د ټولپوښتنې کولو يا د اساسي قانون په بدلون کې د دوی د ملاتړ نه کولو تر شا کوم منطق پټ دی؟

۳. د پښتونخوا د مخالفينو درېيم دليل دا دی چې د پنجاب او سيند ايالتونو نومونه هم د قومونو د نومونو له امله نه، بلکې د سيندونو او دريابونو په نومونو پورې اړه لري. دا خلک وايي چې پنجاب نوم له پينځو دريابونو اخيستل شوی دی او د سيند ايالت نوم د سيند درياب له امله سيند دی، سيندي او پنجابي ژبې او قومونه د همدغو دريابونو په نومونو مشهور دي، ځکه نو که د شمال لوېديځ سرحدي ايالت نوم بدلېږي بايد نوی نوم ګندهارا، اسلاميان، خيبر يا اباسين پر کښېښوول شي، د دې لپاره چې په دغو نومونو سره يواځې د پښتنو ژبه، خاوره او قوم ونه پېژندل شي.

پوښتنه دا ده چې د پنجاب او سيند نومونه که له هرې وجې ښول شوي وي خو همدغه نومونه د دوی د ژبې او قوم لپاره له پېړيو راهيسې کارول کېږي، په عامه توګه دا ويل کېږي چې


www.esalat.org

د پنجاب تورى د مغولو د واكمنى په وخت په لومړي ځل كارول شوى دى ځنګه چې احمدحسن داني او ځيني نور همدا خبره كوي، خو زما د مالوماتو له مخې دا تورى تر هغه ډېر پخوا په ١٣٣٣ كې ابن بطوطه په خپله سفرنامه كې داسي راوړى دى:

"At Panj Ab which is the river of sind and means the five rivers. Those flow into the great river and irrigate those districs"(10).

ژباړه: په پنجاب كې چې د سيند ايالت كوم درياب دى، د هغه مانا ده پينځه دريابونه، دا په لوى درياب ګډيږي او هغه سيمي خړوبوي.

په دې توګه له شاوخوا شپږنيم سوه كلونو راهيسې د دې سيمې نوم پنجاب دى او پنجابي قوم او ژبه هم په همدې نامه نومول شوي او مشهور شوي دي، كه موږ دا ومنو چې دا نوم په پنجابي قوم او ژبه پورې هيڅ اړه نه لري او دا نوم يواځې په پنجاب كې د بهېدونكيو پينځو دريابونو له امله پنجاب دى نو بيا به دې پوښتنې ته ځوك څه ځواب وايي چې په ١٩٤٧م كال كې چې د انګرېزانو له پلان سره سم د هند د وېشلو پر وخت د هغه وخت د پنجاب له پينځو دريابونو (ستلج، بياس، راوي، چناب او جهلم) څخه درې دريابونه (ستلج، بياس او راوي) د هند په برخه كې راغلل او په اوسني پاكستاني پنجاب كې يواځې دوه دريابونه (چناب او جهلم) پاته شول، په دې توګه خو نو بيا تر ١٩٤٧م كال را وروسته د دوو دريابونو خاورې ته د پينځو دريابونو خاوره (پنجاب) ويل ناسم دي، دې ته خو بايد د دوو دريابونو خاوره (دوآب) وويل شي او همداسې پنجابي قوم او ژبې ته بايد (دوآبي) وويل شي، ځكه د چناب او جهلم تر منځ سيمې ته پخوا هم دوآب ويل كېدل او اوس هم بايد ورته وويل شي، همدارنګه د هند په برخه كې موجود پنجاب ته هم بايد تر ١٩٤٧م كال را وروسته پنجاب نه، بلكې د موجودو دريابونو د شمېر له مخې بايد يو مناسب نوم ورته وټاكل شي، خو د دواړو پنجابونو خلك په دې اړه فكر هم نه شي كولاى او نه هم د پښتنو د داډ او له دوى سره د برابرى لپاره تش مانوي بدلون راوستلاى شي چې ځانونو ته د (پنج آبي) پر ځاى (پانچ دريايي ) ووايي، لامل يې يواځې همدا دى چې پنجاب يو تاريخي نوم دى او اوس كه څه هم غلط العام (Misnomer) شوى دى، خو د پنجاب خلك نه غواړي چې د خپل وطن، ژبې او قوم لپاره له دې پرته "بل نوم" خوښ كړي، نو كه پښتانه هم خپل پخوانى تاريخي نوم چې غلط العام (Misnomer) هم نه دى، بېرته يې پر خپل وطن او خاوره باندې ږدي نو په دې كې څه بده خبره ده؟ كه د پښتنو د خاورې نوم د نورو ايالتونو غوندې د كوم سيند يا درياب په نامه نه دى نبول شوى، نو په دې كې د پښتنو څه ګناه ده، پښتنو خو پر خپله خاوره د خپل قوم نوم ايښى دى، د يوې سيمې، سيند يا مذهب نوم خو يې نه دى پر ايښى، زه فكر كوم د پښتونخوا كلمې مخالفين له يو ډول وهم او دار سره مخامخ دي او دوى له هر هغه نامه څخه ويره او كركه لري چې په هغه سره پښتانه پېژندل كېږي او يا له افغانستان سره تړلى وي. د بېلګې په توګه هغوى د (اباسين) له نامه سره جوړ دي، څو كه فرضاً پښتانه و غواړي چې د كابل له سيند سره سم د پخواني شمال لوېديځ سرحدي ايالت يا اوسني خيبر پښتونخوا ايالت نوم (صوبه كابل) كښېږدي،

(10) Ibn Battuta (Travel in Asia & Africa. Translation by HAR Gibb Page 181)



www.esalat.org

نـو کېـدای شــي چــې د هغـو خلکــو (مخــالفينو) لپـاره دا نــوم تــر پښـــتونخوا هــم زيــات د انديښــني وړ او پرېشانوونکی وي، ځکه دوی له دې نامه ځخه "نوره" ويره او خطر انګېري.

بلـه مهمـه خبـره دا ده چې د انګرېزانـو لـه راتـګ سـره د پاکسـتان د نـورو ايـالتونو نومونـه بـدل نـه شـول، ځکـه لـه هغـه پلـوه دوی دښمـن دي او اغېـزمن شـوي نـه دي، انګرېزانـو يـواځې د پښـتنو دغـه سيمه لـه خپل اصلي نامـه پښتونخوا څخـه بې برخـې کـړه. کـه د پنجاب غلط العام شـوی نـوم تـش د دې لپـاره پـر ځـای پـاتېږي چـې دا تـاريخي نـوم دی نـو پښـتانه ولـې لـه خپل تـاريخي، کـره او سـم نامـه څخـه بـې برخـې کېږي؟ او پـه لـوی لاس لـه ژبـې او قـوم سـره د يـوه تـاريخي نـوم د تړلـو لـه تعصبه ډکـې هڅې کېږي.

۳. د پښـتونخوا د مخـالفينو دريېمـه نيوکـه دا ده چـې د پښـتونخوا د نامـه ښـول يـو پـلان او دسيسـه ده، لـه دې څخـه بـه د پاکسـتان بقـا او يـووالي تـه خطـر پـېښ شـي، دوی لـه دې نامـه څخـه د پاکستان د رانلـونکي او بقـا لپاره خطـر احساسـوي، دوی فکـر کـوي چـې بيـا بـه "نـور خلـك" هـم دا ډول غوښـتني کـوي او لـه خلکـو څخـه بـه پټـه کـې د دوی موخـه د سـرايکي ژبـې ويونکيـو د سرايکيسـتان او د بلوچسـتان د پښـتنو د جنـوبي پښـتونخوا د يـوه بېـل ايالـت غوښـتنه ده، حـال دا چـې د پښـتونخوا د نامـه ادعـا لرونکـي عـوامي نيشـنل ګونـد د سـرايکيانو او د بلوچسـتان د پښـتنو لپـاره د جـلا نامـه هيڅ غوښـتنه نـه ده کړې، نه پوهېږم دا خلك ولې داسې وهمي فکرونه کوي.

دا ريښـتيا خبـره ده چـې د بلوچسـتان پښـتانه ځـان تـه د خپـل جـلا آيينـي، قـانوني او انتظـامي حيثيـت غوښـتنه کـوي او خپلـو سيمو تـه جنـوبي پښـتونخوا، افغانيـه يـا دې تـه ورتـه يـو نـوم ورکـول غـواړي او دا غوښـتنه خپـل يـو تـاريخي پـس منظـر لـري، هغـه دا چـې انګرېزانـو کلـه د دې اوسـني بلوچسـتان پښـتني سـيمې تـر خپـل واك لانـدې راوسـتلې نـو دغـو سـيمو تـه يـې د بريتـانوي (British) بلوچسـتان نـوم ورکـړ، چـې ځـان تـه قـانوني او انتظـامي حيثيـت يـې درلـود او د پاکسـتان تـر جوړېـدو را وروسـته هـم د جنـرال ايـوب خـان لـه خـوا د ون يونـټ (۱۹۵۵م) تـر اعلانـه پـورې دغـه نـوم پـر ځـای پاتـه وو، خـو د جنـرال يحيٰـی خـان لـه خـوا د ون يونـټ د ختمېـدو لـه اعـلان سـره سـره- چـې هـر څـه پـر ځـای پاتـه شـول- بيـا هـم بـريټيش بلوچسـتان پـر خپـل زاړه حيثيـت پاتـه نـه شـو او د ۱۹۷۳م کـال د اساسـي قـانون (آيـين) لـه مخـې د بريتـانوي بلوچسـتان د پښـتنو پخـوانی آيينـي او انتظـامي حيثيـت ختـم کـړای شـو او پښـتني سـيمې يـې د بلوڅـو لـه رياسـتونو سـره ګـډې کـړې چـې بيـا يـې د بلوچسـتان ايالـت نـوم ورکـړ او د بلوچسـتان د پښـتنو ځـانګړی حيثيـت ختـم شـو، چـې ښـکېلاککرو او اسـتعماري انګرېزانـو هـم منلـی و. د هغـه وخـت د شـمال لوېـديځ سـرحدي ايالـت وروسـتی انګرېـز والـي اولـف کيـرو پـر خپلـو تولـو نـاپوهيو او پښـتون دوښمنـه نـاوليو او سـپکو فکرونـو برسـېره د بلوچسـتان د پښـتنو د پخـواني انتظـامي حيثيـت پـه اړه د خپل کتاب (پښتانه The Pathans) پر ۳۷۲ مخ باندې ليکي:

"Baluchistan if it means any thing should be the land of Baluch. But Baluchistan is a misnomer….On a true assessment it is the Pathan tribes of this Baluchistan who count".

ژباړه: د بلوچستان مانا چې څه ده نو دا باید د بلوڅانو خاوره وي خو بلوچستان یو غلط نوم دی، کـه پـه سـمه توګـه وکتـل شـي نـو دا د هغـه بلوچسـتان پښـتانه دي چـې یـو ځـانګړی حیثیت لري.

عـوامي نېشـنل ګونـد نـه هغـه وخـت د بلوچسـتان د پښـتنو د خپـل ځـانګړي او جـلا آیینـي او انتظـامي حیثیـت د پـر ځـای پاتېـدو پـه هلـو ځلـو کـي بشـپړه مرسـته کـړې وه او نـه یـې اوس لـه خیبرپښـتونخوا ایالـت سـره د بلوچسـتان د پښـتنو د ګـډولو یـا دوی تـه د خپلـي خوښـي د نامـه د ورکولـو خبـره کـړې ده، ځکـه نـو د بلوچسـتان پښـتانه تـر دې حده بې نومـه او نومـورکي شـول چـي نـور خـو نـور، د منځنـی پښـتونخوا (قبـايلي سـیمو) او خیبرپښـتونخوا ایالـت ځینـي پښـتانه هـم دوی بلوڅـان ګڼـي او ځینـي د پښـتنو لـه تـاریخ، وطـن او ژبـي نـاخبره خلـك خـو د بلوچسـتان د پښـتنو پښـتو تـه "پختـو غوندي بلوچي" وایي.

عـوامي نېشـنل ګونـد نـه لـه افغانسـتانه سـره د ګډېـدو خبـره کـړې ده، نـه یـې لـه خیبرپښـتونخوا سـره د بلوچسـتان د پښـتنو د ګـډولو خبـره کـړې ده، نـه یـې د منځنـی پښـتونخوا د "ازاد قبایـل" پـه خطـاب خوشـاله او ډاډه پښـتنو لپـاره د نامـه د بدلېـدو خبـره کـړې ده او نـه یـې هـم پـه پنجـاب کـي د پښـتنو د شـاملو میـانوالي او اټـك سـیمو پـه پښـتني سـیمو د ګډېـدو خبـره کـړې ده، ښـایي لـه همـدې امله یـوه پښـتون مشـر د عـوامي نېشـنل ګونـد قـومي سیاسـت تـه د "پـر ځـای ولاړ خوځښـت (Halt March)" نـوم ورکـړی وو. لنـډه دا چـي د عـوامي نېشـنل ګونـد د پښـتونخوا غوښـتنه یـوه کمسـاري او محـدوده غوښـتنه وه، دا یـواځي او یـواځي د پخـواني شـمال لوېـدیځ سـرحدي ایالـت د نامـه د بدلېـدو غوښـتنه وه چـي د خیبرپښـتونخوا د نامـه پـه ورکولـو سـره ختمـه شـوه، نـو لـه دې بـدلون سـره د پاکسـتان بقا او یـووالي تـه به تاوان له چا څخه او څنګه رسېږي؟

۴. د پښـتونخوا د مخـالفینو پینځمـه نیوکـه یـا ویـره دا ده چـي د پښـتونخوا نـوم لـه ورکولـو سـره بـه پـه دې ایالـت کـي لـه مېشـتو غیرپښـتنو سـره "ظلـم" وي. د " پشـتونخوا کیـون؟ (پښـتونخوا ولـې؟)" د کتـاب لیکـوال ډاکټـر ایـم- ای- صـوفي د خپـل کتـاب پـر ۶۷ مـخ بانـدې د دې ډار څرګندونـه په دې ډول کړې ده:

ژبـاړه: "کـه د پښـتونخوا د نامـه پـه بدلولو کـي خـدای مـه کـړه د مسلم لیـګ حکومـت د عـوامي نېشـنل ګونـد ملاتـړ وکـړ، نـو دا بـه پـه لـوی لاس لـه هغـو خلکـو سـره زیـاتوب وي چـي هلتـه د پښـتو ویونکي نه شته او بیا به دا خلك هغه غیرپښتانه په پنجاب باندې د ګډولو خبرې کوي".

ایـم- ای- صـوفي یـو بـل ځـای د خپـل کتـاب پـر ۶۵ مـخ بانـدې لـه ۱۸۹۱م څخـه تـر ۱۹۰۱م کالـه پورې د سرشمېرنې له مخې له غیرپښتنو سره د نورو کارګرو خلکو په اړه وایي:

ژبـاړه: " ترکـاڼ، زرګـر، مـوچي، نـایي، پېن او نـورو کسـبګرو خلکـو هنـدکو ژبـه ویلـه او پـه ډېـر زیات شمېر سره په صوبه سرحد کې مېشت وو".

دا اندېښـنه یـواځي د ډاکټـر صـوفي نـه ده، بلکـي لـه دۀ سـره د "پښـتونخوا پـه خـلاف جهـاد" کـي ډاکټـر نسـیم حسـن شـاه، ارشـاداحمد حقـاني، جنـرال حمیـدګل، ډاکټـر صـفدرمحمود، عبـدالقادر حسـن، مجیـب الـرحمٰن شـامي او ځینـي نـور "پوهـان او محققین" هـم شـامل دي. دغـو محققینـو چـي د کومـو


www.esalat.org

خلکـــو يادونـــه کـــړې ده، د هغـــوی تفصـــيل د هنـــد د شاهنشـــاهي واکمنـــی د جغرافيـــايي فرهنـــگ Imperial gazetteer of India (NWFP) پـر ۳۳ مخ بانـدې ورکـړل شـوی دی، د هغـه پـر بنسـټ پـه ۱۹۰۱م کـال کـي د هغـه وخـت پـه شـمال لوېـديځ سـرحدي ايالـت کـي لـه غيرپښـتنو سـره ځلوېښــت زره ترکانــان، اتــه دېــرش زره نــدافان (چــي کځنــان جــوړوي)، اووه ويشــت زره پښــان، درويشــت زره موڅيــان، شــل زره کــلالان، لــس زره زرگــران، څلرويشــت زره نايــان، اوولــس زره دوبيان او يوولس زره ډمان اباد وو.

پوښـتنه دا ده چـي د هغـو لـه وجـوده چـا انکـار کـړی دی او د هغـوی پـر "هنـدکو" ژبـه ويلـو بانـدې څـوك اعتـراض لـري، د دي مانـا دا نـه ده چـي پـه دې ايالـت کـي د دوی د اوسـېدو لـه املـه د پښـتنو د وطـن نـوم بايـد پښـتونخوا نـه وي، دا خلـك تـر دې ډېـر پخـوا هـم دلتـه اوسـېدل چـي هغـه وخـت د دې خـاورې نـوم پښـتونخوا وو، دا کـوم منطـق دی چـي د پخـواني شـمال لوېـديځ سـرحدي ايالـت (NWFP) د نامـه پـر ځـای پاتېـدو سـره بـه دا يـاد شـوي کسـبگر خلـك خونـدي او خوشـاله اوسـېږي او د پښـتونخوا نـوم لـه ښـولو سـره بـه لـه دې خلکـو سـره "زيـاتوب" وشـي او پـه پنجـاب بـه گـډ کـړای شـي. د ډاکټـر صـوفي او د دهٔ د نـورو همنظـرو پښـتونخوا مخـالفينو انديښـني بيځايـه او بـې بنسـټه دي، ځکـه چـي پـه خيرپښـتونخوا ايالـت کـي اوس هـم پـه زرگونـو سـيکان، عيسـايان او هنـدوان مېشـت دي. دا چـي پـه دې ايالـت کـي چـا لـه سـيك يـا هنـدو سـره "ظلـم- زيـاتی" ونـه کـړ او نـه يـې هـم پنجـاب يـا هند تـه د دوی د شـړلو خبـره وکـړه، نـو لـه مسـلمان "ترکـاڼ، زرگـر، مـوڅي، اسـتاکار، نـايي، پښ او نـورو کسـبگرو" هندکو ويونکيو سره به داسي ولي کيږي؟

چـي لـه هنـدو راجپـوت سـره "ظلـم" نـه کيـږي او نـه هـم "د پنجـاب پـر لـور شـړل کيـږي"، نـو د "پشـتونخوا کيـون؟ (پښـتونخوا ولـي ؟)" لـه ليکـوال ډاکټـر صـوفي غونـدې مسـلمان راجپـوت سـره بـه داسـي ولي کيږي؟

لنډه دا چـي د پښـتونخوا نـوم يـواځي يـوه سياسـي اختـراع نـه، بلکـي لـه پيريـو راهيسـي دا نـوم نـه يـواځي پښـتنو بلکـي د پښـتانه وطـن ښـکيلاککرو انگريزانـو هـم پـه وار- وار کـارولی دی. دا هـم حقيقـت دی چـــي شـــمال لوېـــديځ ســـرحدي ايالـــت (N.W.F.P) نـــوم لـــه جغرافيـــوي پلـــوه هـــم غلـط العـام (Misnomer) دی، خـو د نـورو ايالتونو نومونـه د قومونـو او ژبـه څرگنـدويي کـوي. د پښـتونخوا نـوم لـه ښـولو سـره پـه دې ايالـت کـي د غيرپښـتنو د راتلـونکي پـه اړه انديښـني لـه وهمـه پرتـه هيڅ نه دي او تر هر څه زيات دا نوم د پاکستان لپاره په هيڅ ډول خطر نه لري.

پای



www.esalat.org